# مسیر

ورځپاڼه


نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۸ د زمري اتمه | د ۲۰۱۹ د جولای ۳۰مه | ۴۱۳مه ګڼه


## ځېره

۴ مخ




## سږ کال په هلمند کې د هندوانو او خټکيو حاصلات ۲۰ سلنه زيات شوي دي



د هلمند ولايت کروندګر وايي، له تېرو اوربشتونو سره د هندوانو او خټکيو پالېزونو ښه حاصلات ورکړي، خو زياتوي چې مناسب بازار ورته نه لري.

د دغه ولايت د کرنې رياست مسوولين وايي، د هلمند په پنځه زره هکټاره ځمکه هندوانې او خټکي کرل شوي چې تر اوسه ترې ۵۲ زره ټنه د هندوانو او ٦٩ زره ټنه خټکي ټول شوي دي. د دوی په خبره، دغه حاصلات د تېر کال په پرتله ۲۰ سلنه زياتوالی ښيي.

د هندوانو او خټکيو يو سوداګر محمدګل وايي، که چېرې دلته ښه مارکېټ او سړې خونې وای، نو په هېواد کې دننه او له هېواده بهر نورو هېوادونو ته يې هم صادرول.

د هغه په خبره، د بازار د نشتوالي تر څنګ، پر لارو ولاړ پوليس او زورواکي هم ترې پيسې اخلي، چې له امله يې کاروبار خراب شوی دی.

# د ټاکنو د تحريم خبرداری؛

## نوماندان وايي، د ځانګړو نوماندانو په ګټه دې دولتي امکانات نه کارول کېږي



۳

### د سولې پروسې په سیوري کې ټاکنیزې هلې ځلې

۲ مخ

### د شاه امان الله خان د مرګ کیسه

۲ مخ

### افغان ملګرو ته د خدای پاماني پیغام

۳ مخ

## ولسي جرګه: په حکومت کې موازي جوړښتونه به د رای‌ګیرۍ پر اساس لغوه شي

د ملي يووالي حکومت په دوره کې ډېری موازي اداري د بهرنيو فشارونو، سياسي معاملو او ټاکنيزو کمپاينونو په اساس جوړې شوې، چې په لړ کې يې تازه ولسمشر غني د سولې په چارو کې د دولت وزارت او د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي د څېړنې لپاره سکرتريت جوړ کړی دی.

خو د ولسي جرګې د دوشنبې ورځې غونډې اجنډا د ولسمشر غني له لوري د غير قانوني او موازي جوړښتونو ته ځانګړې شوه وه.

وکيلان وايي چې د اساسي قانون له مخې، د هر اداري واحد تر جوړېدو وروسته ولسي جرګه بايد د يادې اداري تشکيل او ورته ځانګړې شوې بودجه تاييد کړي، خو په وروستيو وختونو کې د ولسمشر غني له لوري رامنځ ته شوي اداري واحدونه په غير قانوني توګه خپلې چارې پر مخ وړي.

وکيلان وايي چې د ولسي جرګې د چهارشنبې ورځې په عمومي غونډه کې به د يادو تشکيلاتو لغوه کولو په تړاو د رايی ګيرۍ په اساس پرېکړه وکړي او د نوي کال په بودجه کې به د يادو تشکيلاتو لپاره بودجه تاييد نه کړي.

د ولسي جرګې د دوشنبې ورځې په غونډه کې وکيلانو همدا راز له وسله والو طالبانو سره د مذاکراتو لپاره د مرکچي پلاوي د ټاکلو پر څرنګوالي هم نيوکې وکړې.

وکيلان له حکومت څخه غوښتنه کوي چې د مذاکراتي هيئت لپاره بايد ملي اجماع تشکيل او هغو کسانو ته په ياد هيئت کې ځای ورکړي چې د مذاکراتو وړتيا ولري.

## یوناما: نوماندان دې خپل کمپاينونه په قانوني او عادلانه توګه ترسره کړي

UNAMA

۵ مخ

## صديقي: سفر عمران‌خان به افغانستان تاکنون نهایی نشده‌است



ارگ در واکنش به گزارش‌ها مبنی بر سفر احتمالی عمران‌خان نخست‌وزیر پاکستان، به افغانستان می‌گوید که تاکنون سفر عمران‌خان به کابل نهایی نشده‌است.

این در حالی است که دیروز، یک رسانۀ پاکستان، دنشن گزارش داد که قرار است عمران‌خان به زودی به افغانستان سفر کند و دربارۀ گفت‌وگوهای صلح با مقام‌های حکومت افغانستان گفت‌وگو نماید.

صدیق صدیقی، سخن‌گوی رئیس‌جمهور غنی افغانستان می‌گوید که هنوز زود است تا گفته شود که سفر احتمالی عمران‌خان به کابل بر گفت‌وگوهای صلح اثر گذار خواهد بود یانه؟ آقای صدیقی در این باره اظهار داشت: «هنوز جزئیاتی وجود ندارد که چه زمانی این‌ها [عمران‌خان] به افغانستان سفر می کنند و آجندای سفرشان چه است؛ هنوز قبل از وقت است. هنوز تاریخی برای سفر آن‌ها تعیین نشده».

این در حالی‌است که عمران‌خان، هفتۀ پیش به واشنگتن رفته بود و دربارۀ صلح افغانستان با دونالد ترمپ، رئیس‌جمهور امریکا گفت‌وگو کرد. در همین حال شاه محمود قریشی، وزیر خارجه پاکستان می‌گوید که رئیس‌جمهور غنی برخی ملاحظات در گفت‌وگو با طالبان داشت، اما اکنون این ملاحضات از سوی پاکستان از بین رفته اند.

قریشی می‌افزاید که حلقه یی در منطقه مخالف صلح در افغانستان است و به زودی این حلقه را افشا خواهد ساخت. وی افزود: «عمران‌خان همواره گفته‌است که اگر ما خواسته باشیم ثبات دایمی در افغانستان برقرار شود، باید یک راه حل سیاسی را جستجو نمایم».


if You Can Think It, We Can ink it.

غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ

+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

## دریځ

### د سولې پروسې په سیوري کې ټاکنیزې هلې ځلې

د ولسمشرۍ لپاره د ټاکنیزو هلو ځلو دویمه ورځ هم سړه وه. په دویمه ورځ هم نه کاندیدانو لوی او ګرم پروګرامونه لرل او نه هم خلکو له دې چارې سره لېوالتیا ښودلې ده. په کابل او نور ولایتونو کې کمه محسوسېږي چې د ولسمشرۍ لپاره ټاکنې روانې دي. یوازې په ټولنیزو رسنیو کې د حکومت له خوا ګومارل شوي فیسبوک چلوونکي په اصلي او مستعارو نومونو باندې ټاکنیز کمپاین مخکې وړي او د یوه کاندید په ګټه او د نورو په تخریب په ټولنیزو رسنیو کې فعال دي.

د ټاکنیزو سیالیو په دې ساړه موسم کې دا خبرې هم رابرسېره شوې دي، چې د اګسټ میاشتې په نیمایي او یا وروستیو کې به د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې هوکړه لیک لاسلیک شي. ورسره سم کار روان دی چې یو افغاني پلاوی جوړ شي، څو په ناروې کې له طالب استازو سره مخامخ خبرې وکړي. په دې پلاوي کې به حکومتي استازي او له حکومت څخه د باندې د سیاسي ګوندونو او سیاستوالو استازي هم وي. د ناروې غونډه به د امریکا او طالبانو ترمنځ له توافق وروسته، د بین‌الافغاني مذاکراتو لومړنی ګام وي. که څه هم تر دې وړاندې دوه ځله په مسکو او یو ځل په دوحه کې بین‌الافغاني غونډې شوې وي، خو هغه یوازې د نظریاتو تبادله وه او کومه رسمي مذاکره پکې نه وه شوې. دا ځل ټاکل شوې چې په بین‌الافغاني غونډه کې رسمي مذاکره وشي او د مشخصو پایلو لپاره متمرکز بحثونه وشي. دا به لومړنی ګام او په دې سره به رسمي بین‌الافغاني مذاکرات پیلېږي. له دې غونډې وروسته به پر نورو غونډو او د غونډې پر اجنډاوو بحث کېږي. که دا هر څه همداسې مخ ته ولاړ شي، لکه چې پلان شوي دي، نو واضح خبره ده چې د سولې په اړه مثبت ګامونه اخیستل شوي او د دې لپاره اړتیا ده چې د ټاکنو او ټاکنیزو چارو روانه پروسه ودرول شي. که د امریکا او طالبانو توافق وشي او د بین‌الافغاني خبرو لړۍ هم پیل شي، نو بیا موږ په رښتیا سولې ته نږدې شوې یو او ټاکنې بیا د سولې پر وړاندې واقعي خنډ دی. له همدې امله به ټاکنې هغه وخت له عملي خنډ او ځنډ سره مخ شي، چې د طالبانو او امریکا ترمنځ توافق وشي. د ټاکنو له لغوه کولو جدي او اغېزناک غږ به هغه وخت وشي چې د بین‌الافغاني خبرو لومړۍ غونډه وشي. دا هغه څه دي چې په همدې اګسټ میاشت کې یې د کېدو شونتیا زیاته ده.

د سولې په پروسه کې د جدي پرمختګونو تمه شته او ډېری خلک هیله من دي چې دا کار به وشي. همدې چارې پر کاندیدانو او عامو خلکو هم ژور سیوری غوړولی دی. نه کاندیدان هغسې کمپاین کوي لکه څنګه چې پکار ده د ولسمشرۍ کاندیدان یې وکړي او نه هم خلک په ټاکنو کې برخې اخیستو ته لېوال دي. دوی ټول انتظار کوي چې ډېر ژر د طالبانو او امریکا ترمنځ هوکړه لیک لاسلیک شي او بیا بین‌الافغاني مذاکرات پیل شي. دا هغه چاره ده چې خلک یې غواړي، ملاتړ یې کوي او له همدې امله له ټاکنو او ټاکنیزو چارو سره لېوالتیا نه ښیي.

# د شاه امان الله خان د مرګ کیسه

لیکنه: پاینده څرګند/ بي بي سي -پښتو

تېر کال مو د دغو رپوټونو د لړۍ په لومړۍ او دویمه برخه کې وویل چې د افغانستان د پخواني پاچا امان الله خان لور شاهزادۍ هندیه په لندن کې د بي بي سي دفتر د کتنې پر مهال، د خپل پلار او مور ملکې ثریا په اړه ځینې کیسې وکړې چې تر اوسه کله نه دي خپرې شوې.

شهزادۍ په کور دننه د امان الله خان د عادتونو کیسه وکړه، پر کلکې دینې عقیدې یې وغږېده او هغه مازدیګرونه یې یاد کړل چې پلار به یې په افغانستان پسې اوښکې تویولې. دا یې روښانه کړه چې امان الله خان پوهېده چې په پرځولو کې یې د انګلیسانو لاس و او په کور دننه یې خلک د ده پر ضد پارول او د دروغو تبلیغات یې روان کړي وو.

**درېیمه برخه:**

«پلار به دې له لوی تاج سره هلته (د افغانستان پر لور) ځي». دا هغه وړاندوینه وه چې په ۱۹۵۸ زېږدیز کال کې د ایران په مشهد کې یوه ړانده صوفي شهزادۍ هندیې ته کړې وه، خو هغې نه د امان الله خان د مړینې تعبیر ترې ایستلی و او نه یې هم فکر کاوه چې پلار دې یې ‹له لوی تاج سره › د پاچا په توګه افغانستان ته ستون شي.

دا هغه وخت دی چې امان الله خان په ایټالیا کې جلا وطنی و او د شهزادۍ هندیې په خبره هېواد یې ډېر یادېده. شاه امان الله خان چې تر لس کلنې واکمنۍ وروسته افغانستان پرېښود، بیا یې وطن په ژوندوني ونه لید.

شهزادۍ هندیه چې د بي بي سي دفتر ته راغلې وه، زموږ له هغو پوښتنو چې مطرح کول یې ګران وو، یوه یې د شاه امان الله خان د مړینې څرنګوالی و او زموږ اندېښنه پر ځای وه؛ ځکه نږدې شپږ لسیزې وروسته هم د امان الله خان د مړینې کیسې پر دواړو شهزادۍ او موږ خپګان خپور کړ.

کله چې پاکستان مې مور ته احوال واستاوه چې که د شاه امان الله خان مړی پاکستان ته راوړي، موږ به ډېر څه ورته جوړ کړو، نو مور مې دا وړاندیز ونه مانه. تر دې چې یې پاکستان ته یوسي، مور مې خوشحاله وه چې د مراکشي پوځیانو په هدیره کې یې خښ کړي.

**شهزادۍ هندیه**

ما چې کله د شاه امان الله خان د اوښکو تویولو پوښتنه ترې وکړه او ویې ویل چې «ماته ژړا رانه شي»، نو غوښتل مې چې پوښتنې بندې کړم، خو په شهزادۍ کې د پلار نښې نښانې شته او د غمجنو کیسو له پړاوه بې ژړا ووتله.

**د پاچا د مړینې وړاندوینه**

د امان الله خان د مړینې لامل ناروغي وه، خو پر شهزادۍ هندیې دوو نورو مسئلو هم ژور اغېز پرې اېښی، تر مړینې وړاندې د یوه ګونګي او ړانده سپین ږیري وړاندوینې او له مرګه وروسته افغانستان ته د پلار د مړي لېږد او خښول.

د امان الله خان د مړینې وړاندوینې د کیسې پر مهال داسې ښکارېدل، لکه د شهزادۍ هندیې د سترګو وړاندې چې هماغه سپین ږیری مجسم شوی او غږېدلی وي. شهزادۍ وایي، دغه کس صوفي او نوراني شخصیت و. هغې وویل «ګنګیان هم غږ لري» چې ښایي له همدې کبله د هغه سپین ږیري غږ د هندیې په مغزو کې تر اوسه پاتې دی.

دا د هغه مهال کیسه ده کله چې شهزادۍ د یوې مودې لپاره د ایران په مشهد ښار کې مېشته وه، نو ویل یې: «یو ځل مې له خپل ایراني مېړه وغوښتل چې موږ ته خپلې ځمکې راوښیي. په راستنېدو کې د سړک پر غاړه یو ړوند سپین ږیری له لکړې سره روان و. دا ۱۹۵۸ ز کال و. یو کشر هلکی هم ورسره و. له دې چې دوی غریبانان وو، موږ وغوښتل چې دوی ته پیسې ورکړو. موټر مو ورته ودراوه. دا سپین ږیری یوازې ړوند نه چې ګونګی هم و، خو دا هلکی یې په حرکتونو پوهېده».

د شهزادۍ هندیې لا ډېر پام سپین ږیري ته هغه مهال واوښت چې په خپلو اشارو یې ور وښودل، چې ګواکې د دې او د پلار ټولنیز موقف یې ورمعلوم شو .

له سپین ږیري سره ولاړ هلک شهزادۍ ته د هغه د اشارو مطلب ووایه چې: «دی وایي، دغه نجلۍ چې په موټر کې ده، کوچنی تاج یې پر سر دی، خو پلار یې لوی تاج لري».

دلته وو چې سپین ږیري په خپل ‹عجیب غږ› او اشارې شهزادۍ ته هغه سوچ ور واچوه چې تر نن یې یادوي. «ګونګیان هم غږ لري او د دې سړي هم یو عجیب او غریب غږ و، نو خپل لاس یې داسې (د افغانستان پر لور) کړ چې... دوه کاله وروسته هلته ځي. هغه سړي، له لوی تاج سره په الوتکه کې هغې خواته ځي».

هندیه وایي: «ما ویل، دا به څنګه شوني وي چې پلار به مې بیا پاچا کېږي او افغانستان ته به ځي. هغه هم په الوتکه کې چې چندان یې نه خوښېدله.»

خو د ګونګي او ړانده سپین ږیري اشارې کلونه ونیول چې شهزادۍ هندیه یې په تعبیر پوه شوه. روحاني سړي په ژوندوني نه؛ بلکې په مړینې یې وطن ته د «لوی تاج» د ستنېدلو وړاندوینه کړې وه.

شهزادۍ هندیې په بي بي سي کې د هغه ړانده صوفي کیسه وکړه چې د امان الله خان د مړینې وړاندوینه یې کړې وه.

شهزادۍ په داسې حال کې چې ستونی یې ډک شو ویې ویل: «بالاخره وروسته له دوو کلونو پلار مې مړ شو او له خپل لوی تاج سره په الوتکه کې افغانستان ته ولاړ.»

**جلاوطني او غریبه شاهي کورنۍ**

امان الله خان چې په کندهار کې پرېکړه وکړه چې د ځواک پر سر جګړه نه کوي او د هېواد پرېښودو ته یې ترجیح ورکړه، له خپلې کورنۍ سره د ایټالیا پلازمېنې روم ته ولاړ. د څو محدودو ورځو لپاره په روم کې د افغانستان د سفارت په ودانۍ کې پاتې شو، خو له هغه ځایه یې د ایستلو امر وشو.

له بي بي سي سره په لومړنیو مرکو کې شهزادۍ هندیې وویل: «موږ د خوړلو لپاره یو څه درلودل، خو وروسته کم شول، ځکه موږ ۹ کسان وو. که څه هم مور مې ملکه وه، خو د روم تور بازار ته به تلله او زموږ لپاره به یې د ډوډۍ تابیا کوله، خو کمه او غریبانه ډوډۍ.»

له کړاوه د ډکو ورځو تر تېرولو وروسته شهزادۍ وایي چې په روم کې د یوې مودې لپاره هوسا وو، خو د مور او پلار تر مړینې وروسته پر دې، خویندو او ورونو یې روزګار تریخ شو. دا هغه ورځې ورپه یادوي چې «نهه کسان به تش دسترخوان ته» ناست وو.

هندیه چې ۳۹ کاله له مور سره وه وایي چې ملکه ثریا د افغانستان له وضعیته ډېره کړېده او تل به یې له اروپايي هېوادونو سره پرتله کاوه.

شهزادۍ وایي، مور یې د سرطان ناروغي او جلاوطنۍ ووژله. دا د هغو شپو کیسه کوي چې تر سهاره به د مور سر ته ناسته وه او مور ته د خدمت دا شپې ورځې د خپل ژوند تر ټولو ښې شپې بولي.

د شهزادۍ په وینا، مور یې ملکې ثریا د ژوند په وروستیو کې سخت ارمان درلود، چې شین رنګې کمیس ولري، خو دغه ارمان یې تر مرګه پوره نه شو.

**د پاچا مرګ**

د ۱۹۶۰ ز کال د اپرېل په ۲۵مه د سویس زوریخ ښار په یوه روغتون کې امان الله خان ساه ورکړه. «افغان سفیرانو د افغانستان دولت ته احوال ورکړ»، خو شهزادۍ هندیه وایي چې افغان دولت «هم نه پوهېده چې څه وکړي.»

د پاچا له مړینې وروسته ‹پاکستان چې له ملکې ثریا غوښتنه وکړه چې امان الله خان دې پکې خښ شي›، د شهزادۍ په وینا: «د افغانستان دولت خجالت واېست که څنګه، ویې ویل چې رایې وړئ، خو جلال آباد ته.»

افغان تاریخپوه ډاکتر اعظم سیستاني وایي، امان الله خان دومره پر خلکو ګران و چې «پر هغه ورځ چې یې د مړینې خبر خپور شو، هغه ورځپاڼه چې په دوو روپیو وه، قیمت یې ځلوېښتو ته ورسېد. که څه هم ډېر معلومات پکې نه وو، یوازې همدومره پکې لیکلي شوي وو چې کله او چېرې امان الله خان وفات شو او عکس یې ورسره خپور شوی و. نوم یې ورځپاڼه متبرک سند ګرځولی وه.»

‹خپګان او پښېماني› هغه دوه احساسه وو چې د ښاغلي سیستاني په خبره، په خلکو کې لا ډېر پیدا شول. د ده په خبره، د امان الله خان له مړینې سره «خلک متوجه شول چې وغولېدل. عادل، زړه سواندی، د ښځو د زدکړې ملاتړی او مترقي او پر معارف مین پاچا یې له لاسه ورکړ، ځینو خلکو افسوس کاوه چې ولې یې پر ضد ودرېدل.»

امان الله خان یوازې افغانستان پورې محدود نه و. د ښاغلي سیستاني په خبره، په پښتونخوا کې امان الله خان ته ارادت آن د انګریز چارواکو پام ځان ته ور اړولی و چې په اړه یې لیکلي دي او تر هغه ورهاخوا بیا «د هند مسلمانانو هم امان الله خان خپل پاچا ګاڼه».

پاکستان چې د امان الله خان د مړینې په کال ۱۳ کلن و، د شهزادۍ په خبره، ډېر لېوال و چې امان الله خان پکې خښ شي، خو ملکې ثریا ته دا سره کرښه وه.

هندیه کیسه کوي: «کله چې شاه امان الله خان وفات شو، سفیرانو د افغانستان دولت ته احوال ورکړ. هغوی هم نه پوهېدل چې څه وکړي. پاکستان د دې لپاره چې افغانان ځوروي... نو کله چې پاکستان مې مور ته احوال واستاوه چې که د شاه امان الله خان مړی پاکستان ته راوړئ، موږ به ډېر څه ورته جوړ کړو، نو مور مې دا وړاندیز ونه مانه. تر دې چې یې پاکستان ته یوسي مور مې خوشحاله وه چې د مراکشي پوځیانو په هدیره کې یې خښ کړي. کله چې د پاکستان خبره وشوه، نه پوهېږم چې د افغانستان دولت خجالت واېست که څنګه، ویې ویل چې رایې وړئ، خو جلال آباد ته. هغه مهال د آریانا الوتکې تر روم راتللې، نو بیا یې د آریانا په الوتکه کې یووړ چې ورور مې، کاکا مې او خوریې مې، دې درېو سړیو د کندهار له لارې زما د پلار مړی ولېږداوه. خو له ډاره یې جنازه کابل ته یو نه وړه، مستقیماً یې جلال اباد ته یووړ.»

د امان الله خان د جنازې مراسمو ته نه یوازې له افغانستانه چې له پښتونخوا هم د خان عبدالغفار خان په ګډون مخورو او مشرانو ځانونه رسولي وو. د فاتحې مراسم یې د کابل پُل خشتي جومات کې ونیول شول چې پر ټغر ناستو کې د ډېرو پام د امان الله خان زوی شهزاده حمایت الله ته و. له جوماته د باندې هم ډېر خلک یې لیدلو ته ټول شوي وو چې ویې نشو لیدلی.

پاکستان چې د امان الله خان د مړینې په کال ۱۳ کلن و، د شهزادۍ په خبره، ډېر لېوال و چې امان الله خان پکې خښ شي، خو ملکې ثریا ته دا سره کرښه وه.

د تاریخ په اوږدو کې امان الله خان ته د ډېرو صفتونو نسبت ورکړل شوی، خو هغه صفات چې ښایي د ډېرو پرېکړو، کړنو او سوچ تر شا یې ونډه درلودلې وي، د شهزادۍ په خبره، دری دي چې وایي: «د پلار درې وتلي صفتونه مې دا دي چې وطنپرست و، ملت دوست و او باجرئته سړی و.»

تاریخ هم د شهزادۍ هندیې د خبرې ګواه دی چې امان الله خان باجرئته پاچا و، خو نه د ملت او ملي ګټو پر وړاندې، بلکې د بهرني نیواک پر وړاندې. نن یې د قبر موقعیت د دې لویه بېلګه ده چې په ژوندوني او مړینې د هغه څه لامل نه شو چې ملت له ملت سره او یا حکومت له ملت سره د ده د غوښتنې پر سر په شخړه کښېوځي.

د پلار تر مړینې یوه ورځ وروسته یې له پوښه اېستلې لوڅه توره شا ته واچوله او له خلکو سره یې ژمنه وکړه چې په هر قیمت چې وي د هېواد او خلکو ګټو ته به ځان وقف کوي. له تورې او تېرې ژبې یې د انګرېزانو پر وړاندې کار واخیست، خو چې خبره د هېواد وه، که څه هم د بهرنیو په لمسون ډېر لږ شمېر خلک یې پر ضد راپورته شول، امان الله خان د دې جرئت ونه کړ چې د ده په خبره د ‹خپل ملت پر وړاندې › توره راوباسي. د ژوند تر پایه یې غربت ته ترجیح ورکړه.

له مړینې وروسته په کابل کې او د عصري افغانستان هیله بخښونکو نښو نښانو شاوخوا خښېدل، د امان الله خان وصیت و، خو هغه ارمان یې هم بشپړ نه شو. جنازه یې د وطن پر لور روانه شوه، خو د کابل هوا پرې ونه لګېده او په جلال آباد کې د خپل پلار امیر حبیب الله خان څنګ کې خښ کړای شو.

د پاچا تر مړینې وروسته ملکې لسیزه هم پوره نه کړه او له اوږده کړاوه وروسته ثریا د سرطان ناروغۍ له امله په ۱۹۶۸ ز کال کې ساه ورکړه. د ملکې جنازه هم چې د شهزادۍ په خبره، په ژوندوني یې د افغانستان ارمان کاوه، د وطن پر لور وخوځېده، خو ځای یې معلوم و، د شاه تر څنګ خښېدله.

له دې پېښې سره شهزادۍ هندیه د لومړي ځل لپاره افغانستان ته ستنېده او په الوتکه کې د مور د جنازې ترڅنګ ناسته وه. دا کیسه کوي چې «د سهار ځلور بجې وې چې پیلوټ وویل، اوس د افغانستان خاورې ته دننه شوو».

شهزادۍ د نه زغمل کېدونکي غم پر مهال، د نه تشریح کېدونکي احساس کیسه کوي او وایي، د افغانستان خاورې ته د ننوتو له اعلان سره «ما ډېر وژړل... اوس مې هم چې یادېږي، ژاړم.»

# افغان ملګرو ته د خدای پاماني پيغام



په افغانستان کې د چين سفير ليو جين سونګ

ګرانو دوستانو! همدا اوس چې تاسو دغه پيغام لولی، زه نور په افغانستان کې د چين لوی سفير نه يم او زما د دغه ماموريت موده پای ته ورسېده او له دې هېواد نه د چين پر لور روان يم. وخت ډېر کم دی، نو ښښنه غواړم چې له ټولو افغان ملګرو څخه مې په جلا جلا توګه خدای پاماني وا نه خيسته.

کله مې چې له دغه هېواد څخه د چين پر لوري حرکت کاوه، سترګې مې له اوښکو څخه ډکې وې، ځکه چې افغانستان لومړنی هېواد دی چې ما پکې د چين د لوی سفير په توګه دنده تر سره کړه، په دغه هېواد کې خلکو له ما سره ډېره ښه چلند کړی او په ډېرې مهربانۍ سره يې راسره مرستې کړې چې په دې کار سره مې د چين او افغانستان لرغونې، اوږده او پراخه دوستي احساس کړې او په افغانستان کې مې د چين د سفير په توګه د دندې وياړ تر لاسه کړی او خپل مسووليت مې هم پېژندلی دی.

دا زما دنده وه چې د رييس شي جېن پينګ د استازي په توګه د ده او د چين د حکومت حکمونه تطبيق کړم او د رييس شي او افغان ولسمشر محمد اشرف غني ترمنځ په بېلابېلو برخو کې شوې موافقې پلې کړم. افغانستان ته د رييس شي پاملرنې او د خپلمنځي دوو اړخيزو اړيکو د ودې لپاره د دواړو هېوادونو د مشرتابه او حکومتي ادارو هلو ځلو پر ما او د چين سفارت پر نورو همکارانو ډېر اغېز وکړ او موږ د نوموړي تر لارښوونې لاندې، د دغو اړيکو لپاره تر خپل وس پورې خدمتونه کړي دي.

په تېرو ۵۷۳ ورځو کې ما د سفارت له همکارانو سره يو ځای له خطرونو او ستونزو سره سره، د افغانستان ښارو ولايتونو ته سفرونه کړي، د بېلابېلو ټولنو له زرو شخصيتونو سره مو کتلي، د دواړو هېوادونو ستراتېژيکو همکاريزو اړيکو ته مو وده ورکړې، د دواړو هېوادونو لخوا د يو کمربند او يوې لارې د ګډې جوړونې لپاره مو هڅې کړې او د افغانستان د سولې او بيارغونې او د خلکو د سوکالۍ لپاره مو مرستې برابرې کړې دي.

هغه څه چې له ما سره يې ژورې خاطرې پاتې دي، کوچني کارونه دي. د بېلګې په توګه، چين ته د افغان جلغوزيو صادرات پيل شوي، په چين کې د زړه پر ناروغۍ د سلو اخته افغان ماشومانو درملنه شوې، د چين د اکروباتيک هنري هيئت په افغانستان کې هغو افغان يتيمو ماشومانو ته د دغه هنر لوبه تر سره کړه، چې د جګړې له امله يې خپل پلرونه او ميندې له لاسه ورکړې او د چين سفارت د افغانستان د لرې پرتو غرنيو سيمو هغو ماشومانو ته له نږدې څخه د پانډاګانو د کتنې زمينه برابره کړه او دا د دغو ماشومانو هيله وه. دا د چين سفارت د همکارانو د کوښښونو ښکارندويي کوي او له افغانانو سره د چينايانو ژور احساسات منعکسوي.

زما لپاره تر ټولو د خوښې وړ خبره دا ده چې د چين ، افغانستان او پاکستان خارجه وزيرانو د ترهګرۍ ضد همکاريو تفاهم ليک لاسليک کړ. زما لپاره تر ټولو د خواشينۍ وړ خبره دا ده چې د کرنيزو چارو يو افغان متخصص چين ته د روزنې لپاره له روانېدو څخه يوه ورځ مخکې په يو ترهګريز بريد کې ووژل شو، د ده په لاس کې ټينګ نيول شوی چين ته د ويزې فورم په وينو رنګ شوی و.

هغه څه چې زه ترې ډېر متاثر شوی وم، د افغانستان د ملي موزيم دروازې ته مخامخ پر يو ځلي ليکل شوې جمله ده، چې وايي: "يو ملت تر هغه وخته پورې ژوندی وي، چې کلتور يې ژوندی وي". همدا راز هغو افغان تاريخي اثارو هم ډېر اغېز را باندې کړی، چې له جګړو څخه خوندي ساتل شوي او په چين کې ننداری ته وړاندې شوي دي. هغه څه چې ډېر خوند مې ترې واخيست، د باميان ولايت د بند امير سکون او پوخ شين رنګ دی او همدا راز د واخان د سرحدي سيمې د خلکو ساده دودونه دي.

هغه کس چې زه ورته ډېر درناوی کوم، د چين سفارت زوړ کارکوونکی دی چې علي نومېږي، هغه په تېرو لسګونو کلونو کې شپه ورځ په وفادارۍ سره خپله دنده تر سره کړې، له زور زياتي څخه نه ډارېږي، هغه کار ډېر کوي؛ خو خبرې کمې کوي. هغه څه چې زما ډېر خوښېږي، د کابل ښکلو هنرونو پوهنځي د معيوبو ماشومانو لخوا کښل شوي انځورونه دي، د دوی د انځورګرۍ تخنيک پېچلی نه دی،خو کوم احساسات چې په دغو انځورونو کې پراته دي، هغه د دغو ماشومانو له عمر څخه لوړ ښکاري.

هغه څه چې زما ډېر يادېږي، افغان ماشومان دي. نه پوهېږم چې د هرات ولايت هغه ماشومان چې د وشو لوبې زده کړه يې کوله، اوس به هم د دې لوبې پر روزنه بوخت وي او که نه؟ په مزارشريف کې د چين او افغانستان دوستۍ ښوونځی به په روان کال کې جوړ شي که نه؟ د کابل ښار په څهار راهي قمبر سيمه کې به د کډوالو د کمپ ماشومان د روان کال د ژمي په سړه هوا کې د ټولګيو لپاره کرکۍ او د ګرمولو سيستم ولري او که نه. ايا سږ کال به د يتيمانو ساتلو مرکز کې ماشومان يوځل بيا چيني هنري ننداره کتلی شي او که نه؟ ايا اوس به هم د پغمان ښوونځي نجونې په خېمو کې درس وايي؟ ايا د قرغې په بند کې به کم عمره ماشومان لمبو وهي او کبان به نيسي او که نه؟

سوله د هوا په څېر ده چې نه شي لمس کېدای، خو له هغه څخه پرته خلک ژوند نه شي کولای. د افغانستان خلک په تېره بيا ماشومان جګړې ډېر ځپلي دي، چې بايد داسې نه وای، جګړه د دوی د ژوندانه لپاره د تحمل وړ نه ده. ما او زما چيني ملګرو دا هيله درلوده چې افغان ماشومان د چيني ماشومانو په شان، خوشال، ارام او هوسا ژوند ولري، په خوشالۍ سره مکتب ته ولاړ شي او روغ رمټ کور ته بېرته ستانه شي.

زه افغان ملګرو ته نيکې هيلې وړاندې کوم، هيله من يم چې په افغانستان کې سوله ژر تر ژره رامنځ ته شي، ارامتيا او روغتيا مو نصيب شه.

تاسو به مې تل يادېږئ.

# د ټاکنو د تحريم خبرداری؛

## نوماندان وايي، د ځانګړو نوماندانو په ګټه دې دولتي امکانات نه کارول کېږي



د ولسمشريزو ټاکنو لپاره د نوماندانو ترمنځ کمپاين پيل شوی، خو د کمپاين په دويمه ورځ يو شمېر نوماندانو د ټاکنو د تحريم خبرداری ورکړی دی. د کمپاين په لومړۍ ورځ هم يو شمېر نوماندانو ويلي وو، چې ټول دولتي امکانات د دوو مشخصو نوماندانو په چوپړ کې دي او دوی له دې امکاناتو په استفادې ځان ته ټاکنيز کمپاين کوي. پرون په تازه اقدام کې د نوماندانو شورا ويلي، که تر محدودو ورځو پورې يې غوښتنې ونه منل شي، نو راتلونکې ولسمشريزې ټاکنې تحريموي.

د ولسمشريزو ټاکنو دوولسو نوماندانو په يوه اعلاميه کې ويلي، چې په مرکز او ولايتونو کې د حاکم ټيم لپاره دولتي امکانات کارول کېږي، مقررۍ روانې دي او په يوه او بل نوم نوي اداري واحدونه جوړېږي، چې د دغو اقداماتو د نه بندېدو په صورت کې انتخابات تحريموي.

د ولسمشرۍ ټاکنو دغه نوماندان وايي، چې دوی په شفافه توګه د راتلونکو ټاکنو د ترسره کېدو په هدف حکومت ته مشخص پنځلس وړانديزونه کړي، چې په هغه کې د حاکمو ټيمونو په ګټه د دولتي امکاناتو نه کارول، د مقرريو بندېدل، د نويو اداري واحدونو د تشکيلاتو لغوه کېدل او ځينې نور موارد شامل دي. اعلاميه زياتوي: «په دولتي ادارو کې د تازه تشکيلاتي تغييراتو لغوه کېدل. د ولسمشر له لوري په دولتي ادارو کې د مقرريو بندېدل. د ټاکنيزو کمېسيونونو استقلاليت ته درناوی. په مرکز او ولايتونو کې د حاکم ټيم په ګټه د چارواکو د مداخلو بندېدل. د ملي ورځو په نوم د حاکم ټيم په ګټه له دولتي امکاناتو د استفادې مخنيوی. له ملي بودجې د ناوړه استفادې مخنيوی. هغه شرطونه دي چې تر پنجشنبې يې حکومت بايد په اړه ځواب ووايي».

د ولسمشريزو ټاکنو نوماندان خبرداری ورکوي، که يې تر راتلونکې پنجشنبې غوښتنې ونه منل شي، نو د ټاکنو د تحريم پرېکړه کوي. د ولسمشريزو ټاکنو نوماند شهاب حکيمي وايي: «دوی په نوماندانو په خلکو باندې ريشخند وهي. موږ له همدې امله پرېکړه وکړه چې که حکومت زموږ وړانديزونه ونه منل، نو ټاکنې به تحريم کړو».

په ورته مهال د ولسي جرګې غړي بيا پر ولسمشر غني سختې نيوکې کوي، چې د کمپاينونو پرمهال له دولتي منابعو څخه کار اخلي. دوی وايي، د ټاکنيزو مبارزو په لومړۍ ورځ په ښکاره ډول ولسمشر غني له دولتي امکاناتو په ټاکنيزو سياليو کې ګټه پورته کړه، چې مهمه بېلګه يې د لويې جرګې تالار کې د کمپايني غونډې جوړېدل دی. د ولسي جرګې غړی ضياالدين ضيا وايي ((پرون په ښکاره توګه وليدل شول، چې حاکم ټيم يا د ولسمشر غني ټيم له هر ډول دولتي امکاناتو د خپل کمپاين په ګټه کار اخلي. ټول نوماندان زموږ هېوادوال دي، بايد د دوی په حق کې ظلم ونه شي. د ټولو حقوقو ته بايد درناوی وشي».

له دې سره د ولسمشريزو ټاکنو نوماندان وايي، چې سوله او ټاکنې ورته مهمې دي، خو ټينګار کوي چې تر ټاکنو مخکې سولې ته رسېدل به په شفافه او امنه فضا کې د راتلونکو د ټاکنو ترسره کېدو زمينه برابره کړي.

د نوماندانو شورا د راتلونکو ولسمشريزو ټاکنو د تحريم خبرداری داسې مهال ورکوي، چې ملي شورا هم پر ولسمشر غني د ټاکنو لپاره د غير مسلکي کسانو پر ګومارنو نيوکه کوي، دغه راز نوموړی له دولتي امکاناتو د کمپاين په هدف استفاده کوي او پرانيستل شوې پروژې د خلکو د پاملرنې جلبولو لپاره بيا بيا پرانيزي.

# ايران: هورمز تنګي ته د برېټانوي پوځيانو استول به ناوړه پايلې ولري

تهران د لندن هغه پرېکړه چې د تېل وړونکو بېړيو د ساتنې لپاره فارس خليج ته يوه ډله پوځيان استوي، يو پاروونکی اقدام بللی او وايي چې دغه پرېکړه به ناوړه پايلې ولري.

د ايران د حکومت ویاند علي ربيعي په يوه خبري کنفرانس کې ويلي چې دا کار د پوره دښمنۍ په مانا دی.

هغه ويلي: «موږ اورېدلي چې هغوی يوه پوځي اروپايي ډله فارس خليج ته استوي، دا طبيعتاً يو خصمانه پيغام او پاروونکی اقدام دی او کړکېچونو ته به لمن ووهي».

دا په داسې حال کې ده چې برېټانيا تېره دوشنبه ويلي وو چې پلان لري د هورمز تنګي له لارې د تېل وړونکو بېړيو د تګ راتګ د امنيت د ساتلو لپاره د اروپا په مشرۍ دې سيمې ته يو پوځي ماموريت ولېږي.

د برېټانيا د نوي لومړي وزير بورېس جانسن په مشرۍ، د دغه هېواد نوی حکومت اوسمهال د برېکزيټ تر څنګ، له ايران سره په دې لانجه کې ښکېل دی او که څه هم ګواښونه يو بل ته تبادله شوي، خو لا يې سمه نتيجه نه ده ورکړې.

دغه ځرګندونې داسې مهال دي چې ايران دوې اونۍ وروسته له هغې د جولای په نولسمه د برېټانيا يوه تېل وړونکې بېړۍ په هورمز تنګي کې ونيوله، چې د هسپانيې په جنوب کې د برېټانيا د شاهي دولت تر حاکميت لاندې جبل‌الطارقي چارواکو د ايران يوه لويه تېل وړونکې بېړۍ «ګرېس» له سورليو سره يو ځای ونيوله.

د ايران د حکومت ویاند علي ربيعي په خپلو ځرګندونو کې ويلي، چې د خليج امنيت بايد د سيمې د هېوادونو له خوا ونيول شي.

بلخوا د ايران ولسمشر حسن روحاني هم تر دې وړاندې د عمان د بهرنيو چارو له وزير سره په کتنه کې خبرداری ورکړی و، چې که برېټانيا هورمز تنګي ته ځواکونه ولېږي، دا به په سيمه کې روان کړکېچ نور هم زيات کړي.

روحاني د شنبې په ورځ د عمان د بهرنيو چارو له وزير يوسف بن علوي سره په تهران کې تر يوې ليدنې وروسته وويل چې د هورمز تنګي د امنيت ټينګښت د عمان او ايران مسووليت دی او د بهرنيو ځواکونو حضور په دې سيمه کې هېڅ ګټه نه لري.




د عمان د بهرنيو چارو وزير يوسف بن علوي هم ويلي چې دوی له تهران او لندن سره ښې اړيکې لري او له ټولو خواوو سره د هورمز تنګي د امنيت په اړه اړيکې نيسي.

## د کتـاب خبـرې

# پښتانه


### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### دوهم څپرکی

### له سوله ییزو سرحدي سیمو د افراطیت تر بستره




افغانستان کې د یوه عصري پوځ تشه وه، ځکه به یې قومي لښکرې جنګولې. په ۱۹۱۹ ز کال د افغانستان ملت پال او عصریت پالونکي شاه امیر امان الله خان د انګرېزانو پر وړاندې جهاد اعلان کړ، څو د افغانستان بهرنۍ سیاست ترې خلاص کړي. دا یوه میاشتنۍ جګړه د ډیورنډ کرښې دواړو خواوو ته پرتو پښتنو لښکرو پر مخ وړه. دا درېیمه افغان-انګلیس جګړه وه چې په پایله کې د کابل پر ګټه تمامه شوه او په ترڅ کې یې افغانستان بشپړه خپلواکي واخیسته. د لومړۍ نړیوالې جګړې له ستړیا وروسته، انګلستان د راولپنډۍ د ۱۹۱۹ ز کال د تړون له مخې د افغانستان خپلواکي ومنله.

په ۱۹۲۹ ز کال شاه امان الله خان د تاجک جنګیالي حبیب الله کلکاني له لوري چې د یوه محافظه کار عالم او د بانفوذه پښتنو له لوري یې ملاتړ کېده، له واکمنۍ لیرې شو. نادرخان بیا د ډیورنډ کرښې د دواړو غاړو پښتنو د قومي لښکرو په زور حبیب الله کلکانی له واک وشاړه. هغه خپله واکمني د اصلاحاتو او عصریتوب په راویستلو پیل کړه. د لویې پکتیا پښتانه قومونه یې له عسکري خدمت او مالیې ورکولو معاف کړل، د برېټانوي هند له پښتنو سره د ښو اړیکو لپاره یې ځینو ته کابل ته څېرمه ځمکې ورکړې. په شلمه پېړۍ کې افغان واکمنانو له قومونو سره د خواخوږۍ په خاطر هغوی ته مادي او مانوي امتیازات ورکول. د افسرانو هغو قومي لښکرو چې د نادرخان په ګټه یې جګړه کړې وه، د روسیې په پوځ کې یې پر روزل شوو افسرانو تفوق لاره.

د دې پرمختګونو ترڅنګ، وروسته له هغې چې برېټانوي ځواکونو په پېښور کې غیر وسله وال لاریون کوونکي ووژل، په ۱۹۳۰ ز کال په شمال لوېدیځ سرحدي ولایت کې د پښتنو د عدم تشدد غورځنګ پیل شو. وژل شوي کسان د افغانانو په منځ کې د اصلاحاتو د پرمختګ د سازمان غړي وو. د دې سازمان مشري د خان عبدالغفارخان په غاړه وه. وروسته د دې سازمان نوم په خدایي خدمتګارانو واوښت. یاد سازمان د هند له ملي کانګرېس سره ائتلاف لاره. په ۱۹۳۷ ز او ۱۹٤٦ ز کلونو کې یې په شمال لوېدیځ سرحدي ولایت کې ټاکنې هم وګټلې. دې سازمان د هند له ملي کانګرېس سره هغه مهال په ۱۹٤٦ ز کال اړیکې پرېکړې چې په شمال لوېدیځ سرحدي ولایت کې یوه ټولپوښتنه کېده دا چې خلک له هند سره او که د مسلمانانو له نوي جوړېدونکي هېواد، پاکستان سره یو ځای کېدل. خدایي خدمتګارانو په دې ټولپوښتنه کې د درېیم انتخاب شاملېدل غوښتل، هغه دا چې د پښتنو له سیمو دې خپلواک پښتونستان هېواد جوړ شي. دې غورځنګ هغه ریفرنډم بایکاټ کړ چې په ترڅ کې یې ډېرې رایه ورکوونکو له پاکستان سره یو ځای کېدل غوښتل. د ریفرنډم پایله ٥۱ سلنه د پاکستان لپاره مثبته رایه وه.

**پښتونستان او سړه جګړه**


کابل په ۱۹٤۷ ز کال په ملګرو ملتونو کې د پاکستان د غړیتوب پر ضد رایه وکاروله. افغانستان ویل چې پاکستان باید تر هغه په رسمیت ونه پېژندل شي څو پورې چې د پښتون ستونزه نه وي حل شوې، خو یوه میاشت وروسته کابل خپل اعتراض بېرته واخیست. د ۱۹٤۸ ز کال په فبرورۍ کې افغانستان تر ټولو لومړی هېواد شو چې له پاکستان سره یې ډیپلوماتیکې اړیکې پیل کړې. د پاکستان او هند له جدا کېدو وروسته، خدایي خدمتګارانو په خپل دریځ کې نرمښت راووست او پاکستان یې له مجبوریته ومانه. غفار خان د ۱۹٤۸ ز کال په فبرورۍ کې د پاکستان د وفادارۍ لوړه وکړه. فقیر ایپي د هغو قومي مخورو په منځ کې و چې غوښتل یې په فاټا کې خپلې ملېشې د راتلونکي پښتونستان په هیله فعالې وساتي. دا مشران په دې عقیده وو چې نوی پاکستان د برېټانوي امپریالېزم د دوام یوه برخه وه. د دې هېواد د بنسټګرو هغه خبرې یې رد کړې چې ګڼي پاکستان د مسلمانانو لپاره جوړ شوی و. پاکستاني مشران له غفار خان او نورو قومي مشرانو سره په ملګرتیا ونه توانېدل. خان د ۱۹٤۸ ز کال په جون کې زنداني شو. ځکه
د پاکستان مشرانو د ملت پالو پښتنو د ځپلو هوډ کړی و.

پاکستان د ۱۹٤۷ ز کال په وروستیو کې له قبایلي سیمو پوځیان و ایستل. حکومت ډېر ژر د ډیورنډ دواړو غاړو ته، قومي لښکرو ته لاس واچاوه چې په خپل نیابت یې وجنګوي. وروسته له هغه چې هندو مهاراجا سر هري سنګ کشمیر په هند پورې تړلی اعلان کړ، د پاکستان قومي جنګیالي د مسلمانانو د کشمیر د جګړې لپاره پر دنده وګمارل. پاکستان د کشمیر په اړه اعلامیه رد کړه، د پاکستان او هند ترمنځ د کشمیر پر سر پنځلس میاشتې جګړه وشوه چې تر ۱۹٤۹ ز کال پورې یې دوام وکړ. پاکستان دا جګړه د جهاد په نوم اعلان کړه او له داوطلبه پښتنو څخه یې کار واخیست، هغوی ته یې «پیسې» او «وسلې» ورکولې. که څه هم پښتنو قبایلي سرتېرو سخته جګړه وکړه، خو ونه توانېدل چې د کشمیر مرکز سرینګر ونیسي.

له ۱۹٤۷ ز کال راهیسې پاکستان او هند د کشمیر بېلابېلې سیمې نیولې او پرېښې دي. دا سیمه د کنټرول پر کرښه (Line of Control) سره جدا کېږي، هغه پوله چې هېڅ کله په نړیواله کچه په رسمیت نه ده پېژندل شوې. پر دې پوله د پاکستاني او هندي سرتېرو جګړې عادي شوې، د جګړو له لارې دواړه هېوادونه تر اوسه کومې پرېکړې ته نه دي رسېدلي. نوی ډهلی ادعا کوي چې جامو او کشمیر د هندوستان د خاورې برخې دي. پاکستان بیا ټینګار کوي چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا هغه پرېکړه دې پلې شي چې له مخې یې د کشمیر د شخړې د پای ته رسېدو لپاره باید له ځایي خلکو د هغوی رایه وپوښتل شي. ځینې کشمیري مسلمان غورځنګونه د خپلواکۍ غوښتنه کوي. **دوام لري...**

# برتراند راسل

شفیق امیرزی



راسل ستر نوم دی، خو تر شا یې په زړه پورې کیسې پرتې دي. دغه برېټانوی لیکوال د ژوند په سختو شرایطو کې لوی شوی دی او په ډېرو سختیو کې یې ځان د علم او ادب په ډګر کې رسولی دی. هغه په ماشومتوب کې د مور او پلار له نعمته بې برخې شو او هغه وو چې بیا یې نیا رالوی کړ.

برتراند آرثر ویلیام راسل برېټانوی، فیلسوف، ریاضي پوه، منطق پوه، ادیب، ټولنیز فعال او لیکوال دی. د ۱۸۷۲ ز کال د مې په ۱۸مه د برېټانیا په وېلز کې نړۍ ته راغلی دی. دی لا ماشوم و چې مور پلار یې مړه شول. نیا یې د هغه سرپرستي کوله او دی یې روزه. له اووه کلنۍ وروسته یې مطالعه پیل کړه. تر ډېره به یې ادبیات او تاریخ مطالعه کول. په ۱۱ کلنۍ کې له اقلیدیسي هندې سره بلد شو. ریاضیات او نور انساني علوم وروسته د راسل د فکري پراختیا او ودې سبب شول. هغه د خپل ژوند په اوږدو کې په بېلو علمي حوزو، لکه فلسفه، منطق، میتافیزیک او دیني فلسفه کې مهم فعالیتونه تر سره کړي دي او مهمې لاس ته راوړنې لري. راسل له جي اي مور سره یو ځای په انګلستان کې د تحلیلي فلسفې بنسټ اېښودونکی دی. د راسل تحلیلي تګلاره د ژوند په بېلو مرحلو کې بدله شوې ده. همدې مسئلې د هغه په ژوند کې ډول ډول صفحې پرانیستې دي. بوخنسکي باوري دی چې راسل په ژوند کې منظم فلسفي نظام نه دی جوړ کړی. په دې مانا چې د منظم او یو ډول فلسفي نظام په جوړولو نه دی بریالی شوی. دی وایي چې د راسل فکري لوری وخت په وخت بدل شوی دی او د تحول په حالت کې و.

راسل د خپل عمر ډېره برخه په انګلستان کې تېره کړې ده، خو ولزي اصلیت یې درلود. د راسل کورنۍ پخواني ښاریان او با نفوذه وګړي وو. د هغه نیکه د وکتوریا د سلطنت پر مهال دوه ځله د انګلستان لومړی وزیر پاتې شوی و. پلار یې هم د اشرافي او حکومتي کورنیو سره ښې او قوي اړیکې لرلې. همدې مسایلو راسل ته هم په چاپېریال او شاوخوا کې ارزښت ورکړی و.

د راسل هم د مېرمنو د ازادۍ لپاره یوه مبارزه تېره شوې ده. په ۱۸۷٤ ز کال کې یې مور د وریپېښې ناروغۍ له امله مړه شوه. لږ وخت لا نه و تېر شوی، چې مشره خور یې هم مړه شوه. خور یې تر راسل څلور کاله مشره وه. پلار یې هم په ۱۸۷٦ ز کال کې د ناروغۍ له امله مري.

په همدې وخت کې یې ورور چې تر ده اووه کاله مشر و او نیکه یې د ده سرپرستي او پالنه پیل کړه. دی وایي چې نیکه یې ده ته یو مهربانه، خو له پښو لوېدلي انسان په توګه ډېر څه ور زده کړي دي. په ۱۷۷۸ ز کال کې یې نیکه هم ومړ، نو راسل تر ځوانۍ پورې له خپلې نیا سره و او هغې به یې پالنه کوله. راسل په ځوانۍ کې ډېر یوازې و. هغه له چا سره کار نه درلود او ډېر وخت به یې یوازې تېراوه. ژوند ورته ستړی کوونکی و او یوازې د فلسفې او ریاضیاتو مطالعه یې کوله. ده په ځوانۍ کې دا فکر هم له ځان سره درلود چې ځانوژنه وکړي. راسل وایي، د خپلو نږدې خپلوانو مړینې دا فکر ورسره پیدا کړ چې ځان وژنه وکړي، خو وایي، دا چې له ریاضیاتو سره یې مینه ډېره شوه او هره ورځ به یې مطالعه کوله، نو له دې کاره په ټټ شو.

راسل د خپل ژوند په اوږدو کې ډېر فلسفي مکتبونه تجربه کړي دي. له ایډیالېزم نیولې ان تر منطق او ریالېزم پورې راسل تجربه کړي او فعالیتونه یې پکې لرلي دي. د هغه فلسفي فکر او فکري تګلاره په دې لنډه لیکنه کې نه شي وړاندې کېدلی، ځکه ده په دې اړه لسګونه کتابونه او مقالې لیکلې دي.

راسل د جګړې ضد فعال و. د امپریالېزم سخت مخالف و. دا چې سوله پال او سوله خوښې افکار یې لرل، په لومړۍ نړیواله جګړه کې له پوهنتونه وایستل او زنداني شو. هغه د ادولف هټلر د جګړو مخالفت وکړ. د ستالین د تمامیت غوښتنې او ټولواکۍ مخالف و. له دې سره یې هم مخالفت درلود چې ګواکې امریکا دې له ویتنام سره جګړه کې ښکېله شي. د اټومي وسلو د ختمولو لپاره یې پراخ فعالیتونه کول. په ۱۹٥۰ ز کال کې یې د فکري ازادۍ او انسان دوستۍ له امله د نوبل د ادبیاتو جایزه هم وګټله. راسل څلور ځله واده کړی دی، خو د ځینو ستونزو له امله یې له خپلو مېرمنو بېل شوی دی.

راسل انګلیس فیلسوف او د انګلیسي ژبې پیاوړی لیکوال و. هغه د انګلیسي ادبیاتو په حوزه کې ډېر کار کړی دی او د ښه نامه خاوند دی. ډېری خلک راسل د هغه د فلسفي کتابونو او نورو اثارو له زاویې پېژني. خو هغه د نورو لیکوالانو په څېر د ادبیاتو او لیکوالۍ په برخه کې د ډېرو اثارو خاوند دی. راسل یو ازادي غوښتونکی او مذهبي روشنفکره انسان و. ټولنیزو او مذهبي مسایلو ته د هغه کتنه ډېره متفاوته وه. ده هر څه ته له یوې نوې او متفاوتې زاویې کتل. له همدې امله یې لیدلوري ډېر وخت ځینې مسایل زېږولي دي، چې تر ننه هم ډېری معاصر فیلسوفان د یادو مسایلو پر حل نه دي بریالي شوي. د هغه فکر ډېر لوړ و، تر ټولو مهمه مفکوره یې د جګړې ضد مفکوره وه او په دې برخه کې یې ډېره مبارزه کړې ده. راسل ان له زلمیتوبه مخکې له دې چې فلسفه یې فکر او نظریات بدل کړي، سیاسي خو د جګړې ضد شخصیت و. له همدې امله موږ مخکې هم وویل، چې له پوهنتونه وایستل شو او پنځه میاشتې زنداني شو. له زندانه تر ازادۍ وروسته یې هم له خپلو فعالیتونو لاس وا نه خیست. لا یې هم د جګړې او انسان وژنې پر ضد خپل غږ اوچتاوه. ده ډېره هڅه کوله چې تر خپل توانه د هټلر د جګړو، د ویتنام د جګړو او ورته نورو کشمکشونو مخه ونیول شي.

هغه په ډېری نړیوالو سیاسي غونډو کې د جګړې ضد ویناوې او څرګندونې کولې. سره له دې چې سیاسي افکار یې تر فلسفي افکارو ډېر او پیاوړي نه وو، خو ده بیا هم د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د جګړې پای ته رسېدل او هر ځای د سولې د تامین غوښتنه کوله. ده به ویل چې مدني ژوند باید ښتینی رنګ خپل کړي او د جګړو پر ځای انسانان باید په سوله کې ژوند وکړي.

د راسل په اړه دا ویل کېږي چې هغه هېڅ وخت د دین مخالف نه و، خو د هغو دیندارانو مخالف و، چې له مفکورې او مطالعې پرته به یې د یوه دین لاره خپله کړه. ده په دې برخه کې د ډېر دقت غوښتنه کوله او خلک به یې مناظرو ته رابلل. هغه پر عقل ډېره تکیه کوله. ده به پر دې ډېر ټینګار کاوه، چې تر ډېره انسان باید له عقله کار واخلي او هغه څه ورته د منلو وړ وي، چې عقل یې ومني. ده به ویل، انسان باید په پرېکړو کې له تعصب او تنګ نظرۍ ځان خلاص کړي او په سړه سینه هغه څه ومني چې حق دي او د منلو وړ وي. خو سره له دې د راسل دیني نظریات خورا پراخ دي.

ده غوښتل په دې توګه بشریت خبر کړي چې ژوند ازاد دی، انسان ازاد دی او د فکر کولو، پرېکړې کولو او ژوند کولو ازادي لري. هغه په ادبیاتو کې هم لوی لاس درلود او په ادبي مفکورو کې یې هم تل د انسان د ازادۍ او بشري ژوند د ښه والي لپاره لیکنې کولې. مخکې مو هم وویل چې په همدې لړ کې یې د نوبل جایزه واخیسته. پوهان په دې باور دي چې راسل په جدیت سره په نړۍ کې د ادبیاتو په برخه کې یو له اغېزناکو شخصیتونو دی.

راسل څلور ځله واده کړی دی. د هغه شخصي ژوند له ستونزو او کشمکشونو ډک و. لومړی یې په ۱۸۹٤ ز کال کې له الیس سمېت سره واده وکړ. څو کاله وروسته یې په بله ښځه زړه بایلود او له هغې بېل شو. په ۱۹۲۱ ز کال کې یې الیس طلاق کړه. دا ځل یې له دورا نومې ښځې سره واده وکړ. دوی د دوو بچیانو خاوندان شول. ۱٤ کاله وروسته یې ښځې له بل امریکایي نارینه سره اړیکې پیدا کړې، له دې مسئلې راسل خبر شو او له دې مېرمنې هم بېل شو. له هغې سره یې د عمر تر پایه دښمني وپالله. تر دې پېښې یو کال وروسته یې له پاتریشیا سره واده وکړ. نوموړې په دې وخت کې ۲۱ کاله عمر درلود. په ۱۹٥۲ ز کال کې له پاتریشیا هم بېل شو. په همدې کال کې یې له ادیث فینچ سره واده وکړ او د عمر تر پایه له همدې مېرمنې سره و.

راسل د انساني ژوند په اړه ښه افکار درلودل. نن هم د هغه لنډې لنډې خبرې د نړۍ بېلو ژبو ته ژباړل کېږي او خلک یې لولي. هغه انسانان مینې ته رابلل. د جګړې سخت مخالف و او ویل به یې، هغه وخت چې په مینه ضایع کېږي، ضایع شوی نه دی، بلکې ژوند ته وقف شوی دی. ده به ان ویل چې په کار کې احساس لرل، نیکې اړیکې لرل او دا شیان دومره ارزښت نه لري، انسان د محبت او مینې تږی دی، چېرته چې مینه وي، هلته ټول کارونه سم دي. ده به ویل چې د ښه ژوند لپاره خوشالي مهمه ده. په دې مانا چې لومړی باید ځان خوشاله وساتی، خپله خوښي پیدا کړی، ژوند دې پخپله ښه کېږي. هغه پر خپلو لوستونکو غږ کوي چې وېره لرې کړي. دی وایي، ډار هېڅ وخت دا اجازه نه ورکوي چې عاقلانه پرېکړه وکړي، بلکې د ډار موجودیت هغه خطر لا ډېروي چې له امله یې ځورېږی.

راسل به ویل چې زه د خپلو باورونو لپاره جګړه نه کوم. په دې مانا چې په خپله خبره کلک نه یم ولاړ، کېدای شي په غلطه وم. د هغه تګلاره همدا وه چې وخت په وخت یې فلسفي نظریاتو تغیر کاوه، دا مسئله ځینې کسان منفي عادت بولي، خو ډېر نور یې بیا ستایي.

بالاخره د نړۍ دغه نامتو لیکوال، فیلسوف او ریاضي پوه د ۱۹۷۰ ز کال د فبرورۍ په دویمه ومړ. هغه وصیت کړی و، چې جسد یې دې وسوزول شي او ایرې یې دې د ولز پر غرونو وشنل شي. د ده وصیت یې عملي کړ او همداسې یې د ده جسد وسوزاوه او ایرې یې د وېلز پر غرونو وشنلې.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸،۸۰ |
| € | ۸۷،۸۰ |
| Rp. | ۴۹۷ |
| ₹ | ۱۱۵۰ |
| ¥ | ۱۱،۳۰ |
| £ | ۹۶،۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانۍ

# د اولاد په روزنه کې دری لویې تېروتنې

ژباړه: امان الله «حنیفي»

د اولادونو په روزنه کې ځینې داسې تېروتنې شته، چې ډېری مور او پلار پرته له دې چې په هغه پوه شي، کوي یې. دغه تېروتنې د اولادونو پر شخصیت ژور اغېز کوي او ممکن له هغوی ښه راتلونکی واخلي. موږ کولای شو له هغو تېروتنو څخه په زده کړې سره چې نورو والدینو د خپلو اولادونو په حق کې کړې دي، پند واخلو او د خپلو اولادونو ښه روزنه وکړو. موږ په همدې مقاله کې درې هغه تېروتنې درته ښیو، چې ډېری مور او پلار یې د خپلو اولادونو په حق کې کوي. نه یوازې هغه درته ښیو، بلکې له هغه د خلاصېدو او د بیا نه تکرار لارې یې هم درته ښیو.

**۱- مور او پلار د اولادونو لپاره هرڅه برابروي او له هغوی د هېڅ تمه هم نه کوي**

ستاسې په نظر، څومره والدین له خپلو اولادونو دا تمه لري چې د دوی له اوږو به بار سپک کړي؟ د څېړنو په اساس، په هرو دریو امریکایي والدینو کې دوه یې له خپلو اولادونو دا تمه نه لري. اصل خبره دا ده چې زموږ په ټولنه کې ډېری مور او پلار د کور ډېر کارونه خپله کوي، اولادونه یوازې مصرف کوي او بس. د دغه کار پایلې به څه وي؟ پایله به یې ځان غوښتونکي او بې ملاحظې ماشومان وي، داسې چې ډېر وخت له مور او پلار سره د مرستې په بدل کې وایي، د ماښام ډوډۍ تیارول د مور کار دی یا د برق د بېل د خلاصولو لپاره باید پلار بانک ته لاړ شي.

که تاسې هم له ورته ځواب سره مخ وی، اندېښنه مه کوئ. دا کار د حل وړ دی. یوه چاره دا ده چې هماغه له لومړیو مو ماشومانو ته کار او دنده ورکړئ، خو داسې کار چې د هغوی له توان سره برابر وي. په دې ډول سره ماشومان زده کوي، چې پر ځان سربېره باید د نورو په غم کې هم وي. داسې چې ورځې تر بلې د مسوولیت احساس کوي، په کور، کوڅه او بازار کې له نورو سره مرسته کوي او تر ډېره کوښښ کوي چې یو کار په خپله سرته ورسوي.
مور او پلار باید اولادونو ته دا حس ورکړي، چې هغوی د کور د کارونو په سرته رسولو کې مهم نقش لري. که دوی مرسته وکړي، ډېر کارونه به ژر او په ښه ډول سرته ورسوي.

**۲- ډېری مور او پلار یوازې له اولادونو سره مینه لري، هغوی ته د باجرئته او مقتدرانه روزنې په ورکولو کې سست دي**

دویمه لویه تېروتنه چې ډېری مور او پلار یې د اولادونو په روزنه کې کوي، هغه د دوی کمزوری اقتدار دی. ډېری مور او پلار د اولادونو په اړه چنداني سخت گیر او د هغوی څارونکي نه دي. هغوی کوښښ کوي چې له اولادونو سره څومره یې چې له وسه کېږي، هومره په مینه او مهربانۍ چلند وکړي. اولادونو ته (نه) ویل، هغوی ته ډېر سخت دي او که کله غواړي چې اولاد ته ځواب ورکړي، دا کار بیا ورته له حده سخت وي.
تقریباً له نیمې پېړۍ زیات وخت کېږي، چې څېړونکي او ارواپوهان، له اولادونو سره د مور او پلار د چار چلند په اړه څېړنې کوي. د څېړنو پایلې ښیي چې په مجموع کې مور او پلار له خپلو اولادونو سره په کور کې درې ډوله چلند کوي:

**الف - زور زیاتی**

زور زیاتی مانا دا چې هرڅه مور او پلار وایي، باید پرته له دې او هغې ومنل شي. د دې ډول چلند لرونکي مور او پلار له خپلو اولادونو سره چنداني د مینې او محبت اظهار نه کوي، چې دا په هېڅ وجه سمه کړنه نه ده.

**ب – له حده زیاته نرمي**

له حده زیاته نرمي مانا دا چې مور او پلار له اولاد سره د مینې او محبت په نوم دومره نرم چلند کوي، چې ان بیا یې اولاد د دوی خبرې اوري هم نه او هغوی شله وي چې باید خبره یې ومنل شي. دا وخت بیا ډېری کارونه د اولاد په خوښه کېږي، چې دا هم سمه لار نه ده.

**ج- مقتدرانه او معقول رفتار**

دا ځانگړنه لرونکي مور او پلار بیا پر خپل ځان پوره باور لري، د اولاد پر کنټرول پوره حاکم وي، د اولاد حقوق او امتیاز ته قایل وي، دا ډول مور او پلار هم اولاد د کارونو مسوولیت ته ورکوي او هم د اولاد ځینې اړوند کارونه دوی کوي. دوی د اولاد خبرې اوري او له هغوی سره ان د ځینو کارونو په اړه سلا مشورې هم کوي.

**۳- مور او پلار نه شي کولای خپل ارزښتونه په کور کې پلي کړي او هماغه وي چې بیا یې اولادونه د کور په نسبت، له بیروني چاپېریال څخه ډېر متاثېره کېږي**

تر ټولو مهم لامل چې د انسان پر شخصیت اغېز لري، هغه دود او کلتور دی. که غواړو چې اولادونه مو دې مهربانه، مؤدب او با شخصیته وي، نه شو کولای چې پر نن له بیرون نه راغلي یا پردي کلتور هغوی ته د عمل کولو سپارښتنه وکړو.
نن ورځ ټولنیزې رسنۍ، په کاروباري چارو کې یوازې مادي اړخ په نظر کې نیول او له حده زیات پر جنسي مسایلو ټینگار او هغه ته په زیات ارزښت قایلېدل، هغه څه دي چې د نننۍ نړۍ کلتور یې غواړي. که موږ د خپلو اولادونو له روزنې او د هغوی له کلکې څارنې غافل شو، حتماً به د دې پیغامونو ښکار کېږي او ځان ته به یوه نامناسبه الگو پیدا کوي. همدا الگو ټاکل د هغوی په شخصیت او روان له حده زیات اغېز کوي او بیا هماغه وي چې بالاخره مور او پلار د اولاد په روزنه کې یو فرعي نقش پیدا کوي.
مور او پلار باید له حده زیاته هڅه وکړي، چې په کور کې اولاد ته تر هرڅه زیات خپل دود او کلتور ښه وروپېژني او هغه د خپلو مقدساتو په څېر ورته مهم او له ارزښته ډک معرفي کړي. بیروني یا پردي فرهنگونه تر ډېره زموږ له ټولنې، زموږ له غوښتنو او روان سره په ټکر کې دي. دا خبره باید داسې ونه انگېرل شي چې پردي کلتورونه کاملاً بې مانا او بد دي؛ نه، ځینې اړخونه یې دي چې هغه زموږ له ټولنې سره سر نه لگوي. له ښو هغو یې باید استفاده وشي او بد هغه یې خپل نه شي.

## یوناما: نوماندان دې خپل کمپاینونه په قانوني او عادلانه توگه ترسره کړي

په افغانستان کې د ملگرو ملتونو مرستندوی دفتر (یوناما) د ولسمشریزو ټاکنو له کاندیدانو غوښتي چې خپل کمپاینونه له قانون سره سم پر مخ بوځي.
په کابل کې د ملگرو ملتونو د دفتر یا یوناما له خوا په خپره شوي خبرپاڼه کې راغلي، په داسې حال کې چې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د کمپاین دوره پیل شوې، له ټولو کاندیدانو او د هغوی له پلویانو هیله کېږي چې خپل کمپاینونه د ټاکنو د قانون، د کاندیدانو لپاره د ټاکنو خپلواک کمېسیون د کړنلارې او د ټاکنو کمېسیون له خوا د منل شوو اصولو پر اساس په عادلانه توگه تر سره کړي.
سرچینې زیاته کړې، ټولې ښکېلې غاړې باید د ټاکنو پر بهیر د باور او ډاډ رامنځته کولو لپاره کار وکړي او هیله کېږي چې پیل شوي کمپاینونه به افغانانو ته کافي معلومات او پوهاوی ورکړي، څو په پوره پوهاوي خپل راتلونکی ولسمشر وټاکي.
په خبرپاڼه کې دغه راز راغلي، رسنۍ د ټاکنو په بهیر کې یو فوق العاده مهم رول تر سره کوي، هماغه ډول چې باید ټول افغانان د سوله ییزې او عادلانه کمپاینې دورې د رامنځته کولو په برخه کې خپله ونډه تر سره کړي. یوناما ویلي، ثبت شوي رای ورکوونکي هڅول کېږي چې په ټاکنو کې برخه واخلي، څو د ښځو په گډون، د افغانستان خلک د خپلو ډیموکراټیکو غوښتنو ځرگندولو ورتیا ومومي.
د سرچینې په خبره، ټولې ډلې باید د ولسمشر د فرمان په گډون چې حکومتي کارکوونکي او امنیتي ځواکونه یې په ټاکنیزو چارو کې له لاسوهنې منعه کړي، د قانون پر اساس چې وایي: «ټول حکومتي چارواکي له قانوني اړخه مکلف دي چې په حکومت کې خپل کارونه له کمپاینونو څخه جلا او د کوم مشخص کاندید په گټه له خپل موقف څخه گټه پورته نه کړي.)) له خپلو مکلفیتونو خبر وي.
یوناما یو ځل بیا د افغانانو په مشرۍ او د افغانانو په مالکیت د ټاکنو تر سره کېدو د ژمنې پر دوام ټینگار کړی او د ټاکنو د مدیریت د بنسټونو له خوا تر سره شوې هڅې یې ستایلې او له حکومت او نورو برخه والو یې غوښتي چې د ولسمشرۍ لپاره پر وخت، روښانه او د باور وړ ټاکنې تر سره کړي.

## ټاکنو خپلواک کمېسیون: ولسمشریزې ټاکنې له ژمنې سره سمې د تلې په شپږمه کېږي

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ولسمشریزو ټاکنو د ۱۲ نوماندانو د تحریم له گواښ وروسته ویلي، چې دغه ټاکنې به له ژمنې سره سمې په ټاکل شوې نېټه وشي.
وروسته له هغې چې د نوماندانو شورا وړمه ورځ خبرداری ورکړ چې په حکومت کې د وروستیو ناقانونه گومارنو په غبرگون کې ښایي ولسمشریزې ټاکنې تحریم کړي، د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي چې نوماندان باید پر ټاکنو باور ولري او خپلې انتخاباتي مبارزې دې پیل کړي.
د دغه کمېسیون مرستیال عصمت الله مل د نوماندانو شورا د دغه گواښ په غبرگون کې ویلي، چې ولسمشریزې ټاکنې له ژمنې سره سمې د تلې په شپږمه کېږي.
هغه ویلي: «موږ په دې اړه نن فکر کوو او خپل تصمیم نیسو، په هر صورت موږ انتخابات تر سره کوو، نېټه یې اعلان شوې او کمېسیون هم خپله اماده گۍ نیولې چې د ولسمشرۍ انتخابات د میزان په شپږمه تر سره کړي».



دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د ټاکنیزو کمپاینونو د پیل په لومړۍ ورځ د نوماندانو شورا خبرداری ورکړ، که په حکومت کې وروستۍ ناقانونه گومارنې لغوه نه شي او د روانې اونۍ تر پایه په ټاکنیزه پروسه کې لازم اصلاحات رانه شي، دوی به دغه پروسه تحریم کړي.
د یادې شورا غړي شهاب حکیمي ازادي راډیو ته ویلي، اوس دوی یوازې ټاکنیزو مبارزو ته نه دي داخل شوي، خو که غوښتنې یې ونه منل شي، نو دا پروسه به تحریم کړي. د نوموړي په خبره، که د دوی له موجودیت پرته ټاکنې کېږي، نو مشروعیت به هم ونه لري.
بلخوا د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ یا فیفا وایي، د دوولسو انتخاباتي ټیمونو له لوري د ټاکنو تحریم د انتخاباتو قانوني مشروعیت تر پوښتنې لاندې نه راولي.
د دغه بنسټ اجرایوي رییس یوسف رشید ازادي راډیو ته ویلي چې ټاکنې ان د دوو نوماندانو ترمنځ هم کېدای شي.
هغه زیاته کړې: «د انتخاباتو په قانون کې د انصراف بحث لرو چې په رسمیت پېژندل شوی او په انتخاباتي مهالوېش کې هم ذکر شوی، خو د تحریم مسئله یوه سیاسي مسئله ده، که څه هم حقوقي ستونزې نه رامنځته کوي، خو د پروسې سیاسي باور ته زیان رسوي، له حقوقي نظره له یوه نوماند د زیاتو په موجودیت کې هم انتخابات کېدای شي».

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۸ د زمري اتمه | د ۲۰۱۹ د جولای ۳۰مه | ۴۱۳مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۷ | ۴۰ | ۴۲ | ۴۲ | ۴۰ | ۳۸ |
| ۲۰ | ۲۳ | ۲۷ | ۳۰ | ۲۹ | ۲۶ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۵ | لمر ختل ۰۵:۰۱ | ماسپښین ۱۲:۰۱ | مازیګر ۰۳:۴۲ | ماښام ۰۶:۵۹ | ماخوستن ۰۸:۳۶

## نړۍ



# ایران: هورمز تنګي ته د بریټانوي پوځیانو استول به ناوره پایلې ولري

۳

## وکلا: حکومت پول پروژه‌ها و معاشات معلمین را به انتخابات اختصاص داده است



برخی اعضای ولسی جرگه می‌گویند که وزارت مالیه، پول برخی پروژه‌ها را تنقیص کرده و آن را به هزینه‌های برگزاری انتخابات ریاست جمهوری اختصاص داده است؛ اما وزارت مالیه این سخنان را رد می کند.

حکومت افغانستان، هفته گذشته طرح بودجه وسط سال را که بودجه انتخابات ششم میزان ریاست جمهوری نیز شامل آن است، به شورای ملی غرض تصویب فرستاده است.

روی این طرح در کمیسیون‌های ولسی جرگه بحث صورت گرفته است.

ناهید فرید نماینده مردم هرات در این جرگه، در نشست دیروز این جرگه گفت که نباید بودجه وسط سال مورد تصویب جرگه قرار گیرد.

وی افزود: «حکومت پروژه‌های ساخت و ساز مکاتب، چاپ کتاب درسی و معاش معلمین را تنقیص کرده و آن را به برگزاری انتخابات اختصاص داده است، به اساس معلومات وزارت معارف؛ مبلغ زیاد پول انتخابات از پروژه‌های وزارت معارف اختصاص یافته است».


عبدالقیوم سجادی نماینده مردم غزنی در این جرگه گفت که در بودجه وسط سال، پول بیش از یکصد پروژه عام‌المنفعه به برگزاری انتخابات اختصاص داده شده‌است.

غلام فاروق مجروح نماینده مردم هرات نیز گفت که حکومت ۱۵۴ پروژه که در سند بودجه سال مالی ۱۳۹۸ گنجانیده شده بود را از این سند تنقیص کرده و پول آن را به برگزاری انتخابات ریاست جمهوری اختصاص داده‌است.

او افزود، این در حالی است که هیچ کسی حق تنقیص و انتقال پول از یک کود به کود دیگر را ندارد. موصوف این اقدام وزارت مالیه را خلاف اصولنامه بودجه خواند و گفت که هیچ نهادی به شمول حکومت، صلاحیت تعدیل پول پروژه‌های انکشافی را ندارد.

شماری از اعضای دیگر این جرگه نیز نظر مشابه داشتند و گفتند که باید بودجه وسط سال به شکل جدی بررسی شود.

## په کالیفورنیا کې یوه وسله وال کس ۱۸ کسانو ته مرګ ژوبله اړولې



د امریکا د متحده ایالتونو د کالیفورنیا ایالت چارواکي وایي، د دغه ایالت د اوګې په جشن کې د یوه بریدګر په ډزو کې درې تنه وژل شوي او ۱۵ نور یې ټپیان کړي دي.

د دغه ایالت پولیس وایي، دغه وسله وال کس په ګیلوري ښار کې د دغه جشن پر ګډونوالو ډزې کړې او درنه مرګ ژوبله یې اړولې ده.

د دغه ښار د پولیسو مشر سکاټ سمیتي ویلي، چې پولیسو سمدستي بریدګر کس ویشتلی دی.

داسې ګومان کېږي چې په دې پېښه کې به دویم شخص هم دخیل وي، خو پولیس وایي، د دویم تورن کس د شتون په هکله تر اوسه دقیق معلومات نه لري.


د دغه ایالت چارواکي وایي چې دغه بریدګر پر سختو امنیتي تدابیرو سربېره، توانېدلی چې دغه جشن ته له وسلې سره ننوځي.

پولیس وایي، د دغې پېښې په هکله پلټنې روانې دي او لا د برید انګېزه معلومه نه ده.

دا په داسې حال کې ده چې له څو کلونو راهیسې په امریکا کې د غیر قانوني وسلو د پلور پر سر د دغه هېواد د کانګرېس او سپینې ماڼۍ ترمنځ ژور اختلافونه موجود دي. حکومت هڅه کوي چې په دغه هېواد کې د وسلو ازاد بازار کنټرول کړي، خو د دغه هېواد د کانګرېس ځینې غړي بیا د حکومت له دې پرېکړې سره مخالفت کوي.

د یادونې ده چې د امریکا په بېلابېلو ایالتونو کې هر کال پر مراسمو او ښوونځیو د ورته بریدونو له کبله، سلګونو کسانو ته مرګ ژوبله اوړي.

## د نایجیریا په بورنو ښار کې ۶۵ کسان وژل شوي



په نایجیریا کې د بوکوحرام تروریستي ډلې په خونړي برید کې ۶۵ تنه وژل شوي او لسګونه نور ټپیان دي.

د نایجیریا دولتي ټلوېزیون د یو حکومتي چارواکي محمد بولاما په حواله ویلي چې د بوکوحرام ډلې پر هغو کسانو برید کړی، چې له یوې جنازې نه بېرته را روان وو.

د سرچینې په خبره، په دغه برید کې شاوخوا ۶۵ تنه وژل شوي او لسګونه نور ټپیان شوي چې قربانیان یې ټول ملکي وګړي دي.

د چارواکو په خبره، دغه پېښه د نایجیریا په شمال ختیځ کې د بورنو په ښار کې شوې ده.


دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په نایجیریا کې د بوکو حرام تروریستي ډلې په فعالیتونو کې زیاتوالی راغلی او وخته ناوخت پر حکومتي ځواکونو سربېره، د دغه هېواد په عامو وګړو هم مرګوني بریدونه کوي.

محمد بولاما له دې پېښې وروسته ویلي، چې بوکو حرام دغه برید د هغو عملیاتو په غچ کې کړی چې څه موده وړاندې د حکومتي ځواکونو په ځانګړو عملیاتو کې د دې ډلې ۱۱ غړي وژل شوي وو.

د یادونې ده چې د بوکو حرام دغه برید د ملګرو ملتونو ترڅنګ، په نړیواله کچه د بشري حقونو د مدافع بنسټونو لخوا هم په کلکو ټکو غندل شوی دی.

## ژوند


## خلک ستاسو راتلونکی نه شي ټاکلی




مونږ ډېر کله په ذهن کې د ګډوډۍ له مخې عمل کوو. کېدای شي له هغو کسانو سره چې تاسو لوی شوي یاست، منفي وو. دا هم دلیل نه شي کېدای چې تاسو د منفي شی. کېدای شي ملګرو مو لویې هیلې نه درلودې. دا هم دلیل نه شي کېدای چې تاسو هم له خپلو هیلو لاس په سر شی. ځکه تاسو یو کاملاً ازاد انسان یاست.

دا هغه ویروسونه دي چې ستاسو ذهن یې ککړ کړی دی، منفي اغېز یې در باندې کړی او ان ستاسو ژوند یې تر خپل کنټرول لاندې راوستی دی. خدای پاک تاسو خپلواک، روغ، مثبت او خوښ پیدا کړي یاست. تاسو یوه لویه داخلي نړۍ لرئ چې کولی شی ډېر لوی لوی کارونه تر سره کړئ. پر تاسو چا منلي ده چې تر کومه ځایه چې امکان یې و، پرمختګ مو کړی له دې ډېره هڅه مه کوئ؟ یا مو د تېروتنو شمېر دومره ډېر دی چې د پرمختګ شونتیا نه وینئ او هېڅکله به خپلو موخو ته ونه رسېږئ؟ باید پوه شئ چې تاسو په مخ کې هېڅ خنډ نه لرئ. هڅه وکړئ چې هېڅ یو له دې لېبلونو څخه له ځان سره ونه لېږدوئ. خلک ستاسو راتلونکی نه شي ټاکلی. یوازې خدای پاک دی چې ستاسو راتلونکی ټاکي.

## دغه عادتونه د وزن د زیاتوالي لامل کېږي



ډېر عادتونه او لاملونه شته چې د وزن د زیاتېدو لامل کېږي؛ خو دلته مونږ پنځه ورځنۍ عادتونه ذکر کوو چې په لوړه کچه وزن زیاتوي.

۱ـ غټې مړۍ(ګولي) کول: باور دی، هغه خلک چې غټې ګولي کوي، نسبت هغوی ته چې وړې ګولي کوي، ډېره کالوري مصرفوي. نو کله چې غذا خورئ، نو کوچنۍ ګولي پورته کړئ او ښې یې وژویئ، څو ښې هضمې شي.

۲ـ کمې اوبه څښل: هغه خلک چې د ورځې له مخې لږ اوبه څښي، ډېر احتمال دی چې وزن یې زیات شي.

۳ـ په غټو پلیټونو کې خوراک: هغه څوک چې په غټ پلیټ کې خوراک کوي، تر نورو ډېر خواړه هم مصرفوي، چې پایله یې د زیات وزن اخیستل دي.

۴ـ کم خوب: هغه څوک چې له مناسبې اندازې کم خوب کوي، چاغیږي. نو د دې لپاره چې د خپل وزن کنټرول وساتو، باید په منظمه توګه استراحت وکړو.

۵ـ له خیټورو ملګرو سره ناسته ولاړه: هغه ملګري چې ډېر خوراکي وي، له هغوی سره زیاته ناسته پاسته هم د وزن د زیاتیدو باعث کېږي، ځکه کله چې هم دوی بهر وځي، نو حتماً د خوراک لپاره څه اخلي.